SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحریک مرکزي نشراتي ارګان

دریم کال یوویشتمه ګڼه پرله پسې (۱۲۱) یکشنبه د ۱٤۱۸هق کال ذوالحجة الحرام (۲۳) ۱۳۷۷ هـ ش کال د وري دمیاشتې (۳۰) د۱۹۹۸میلادي کال اپریل (۱۹)

محترم رئیس شورای سرپرست ریچاردسن را به حضور پذیرفتند

محترم الحاج ملا محمد ربانی رئیس شوراي سرپرست هیأت عالیرتبه ایالات متحده امریکا تحت ریاست شاغلي بل ریچارد سن سفیر دایمي آنکشور در سازمان ملل متحد را غرض ملاقات بحضور پذیرفتند.

دفتر مطبوعاتي شوراي سرپرست به آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : طی این ملاقات در حالیکه محترم مولوي وکیل احمد متوکل سخنگوي امارت اسلامي افغانستان و برخي از اعضاي کابینه نیز اشتراك داشتند

ابتدا آیاتي چند از قرآن عظیم الشان قرائت گردیده متعاقباً شاغلي بل ریچاردسن از ملاقات با هیأت رهبري امارت اسلامي افغانستان ابراز خوشي نموده گفتند : ایالات متحده امریکا افغانستان را دوست خوبي میشمارد و به اسلام و ارزش هاي اسلامي بدیده قدر مینگرد . و میخواهد مناسبات نزدیك با افغانستان داشته باشد و از داعیه صلح استقلال، تمامیت ارضي افغانستان پشتیباني کامل مینماید.

شاغلي بل ریچاردسن به ادامه صحبت هایش خواهان آتش بس گردیده افزود بهتر خواهد بود اگر مذاکرات صلح قبل از ۲۷ اپریل شروع گردد ایالات متحده به باز سازي کشور جنگ زده افغانستان علاقه مفرط داشته و منتظر آنست تا هر چه زود تر صلح سراسري در این کشور تامین گردیده پروسه بازسازي آغاز گردد وي افزود ایالات متحده در امر باز سازي افغانستان نقش مهمي را بازي خواهد کرد.

سپس محترم الحاج ملا محمد رباني رئیس شوراي سرپرست از آمدن هیأت ایالات

ص«٤»

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډېر نږدې دی تقوا(پرهیزګاری) ته .

(سورة المائدة)

در طول مدت ۱۹ سال اولین بار هیئت بلند پایهء ایالات متحدهء امریکا وارد کابل گردید

هیأت بلند پایه ایالات متحده امریکا تحت ریاست محترم بل ریچارد سن صبح روز جمعه ۱۹ ذوالحجه وارد کابل گردید.

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد در میدان هوایي بین المللي کابل از هیأت موصوف محترم الحاج مولوي محمد طاهر انوري رئیس اداره امور ، محترم الحاج مولوي سید محمد «حقاني» معین وزارت امور خارجه ، محترم مولوي احمد جان رئیس اداري وزارت امور خارجه ، محترم دوکتور عبدالستار «پکتیس» رئیس تشریفات آنوزارت و برخي از مسوولین امارت اسلامي افغانستان استقبال بعمل آوردند.

محترم بل ریچاردسن ضمن مصاحبه با ژورنالستان در میدان هوایي کابل اهداف سفر خویش را به افغانستان توضیح نموده گفت

ص«٤»

عالیقدر امیر المؤمنین د نیمروز له مصیبت ځپلو خلکو سره د مرستي اعلان وکړ

عالیقدر امیــــر المؤمنین د نیمروز ولایت له مصیبت ځپـــلو خلکو سره د مرستي اعلان وکړ .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : په دي مرسته کي پنځه زره لکه افغاني شاملي دي چــــي په سمــــــلاسي توګه د مصیبت ځپلو کـــــــانو د لاس نیوني په خاطر تر سره کیږي .

د عالیقدر امیر المؤمنین سلا کار او د افغانستان د اسلامي امارت ویاند محترم مولوي وکیل احمد "متوکل" له شریعت اوونیزي سره په مرکه کي :

افغانستان اسلامي امارت به د اسلامي اصولو په تطبیق کي له هیڅ دول نرمښت نه کار وانه خلي

ځني مطبـــوعات د طـــالبانو په هـــکله له پټو سترګـــو نه کـــار اخلي

د امریکایي هیئت له دي مقدماتي سفر نه به معلومه شي چي دوي د افغانستان په اړه څومره مخلص دي

شریعت اوونیزه واقعاً یوه وزینه، پر محتوي، جامعه، معقوله اوونیزه او د طالبانو د اسلامي تحریك ښه ترجماني یې کړېده

محترمو لوستونکو ! دا دي د خپلو مرکو د لړي په ترځ کي مو د هیواد د وروستیو سیاسي حالاتو په اړه د عالیقدر امیر المؤمنین له سلاکار او د افغانستان د اسلامي امارت له ویاند محترم مولوي وکیل احمد «متوکل» سره مرکه کړېده چي لوستلو ته یې ستاسي پام واړوو.

پوښتنه : نړیوالو مطبوعاتو داسي تاثر او ذهنیت ورکړ چي ګویا طالبان د امریکا د فشار په اساس د لومړي ځل لپاره د سولي او تفاهم لپاره چمتو شویدي په داسي حال کي چي د طالبانو اسلامي تحریك تل د سولي او تفاهم لاره خپله کړېده او مخالفین د سولي او خبرو پروسه سبوتاژ کوي تاسي په دي

اړه څه وایي .

ځواب : بسم الله الرحمن الرحیم - حامداً و مصلیاً اما بعد : نا لومړي ځل نه دي چي ځني مطبوعات او په ځانګړي دول غربي مطبوعات د طالبانو په هکله له پټو سترګو نه کار اخلي ګکه د دوي هدف بزنس

یا تجارت دي ډېر ګله داسي هم شویدي چي دوي په خبرو کي د تصرف نه په استفادي سره د اسلامي امارت پالیسیو ته

له خپل نظر سره سم څو نوعي ورکوي زما په نظر دا د دوي هغه عمل دي چي اوس د نړي ټول مسلمان دوسته مؤمن ولس، او انسان دوسته خلك ورسره عادي او بلد شویدي.

په دي خاطر چي د اسلامي امارت د مخالفینو دعوه او عمل بیل بیل دي نو بي له شکه د یو اصیل هدف په لرلو نه دي موفق شوي ، په مختلفو بهانو بي جنګونو ته دوام ورکړېدي، د خپلو ناروا ګټو لپاره د سولي د خبرو په وړاندي خنډ شویدي. او دا ټولو افغانانو او نړیوالو ته ثابته شویده .

دوهم مخ

معین اول وزارت مالیه با هیأت کمپني هاي صنعتي کشور چین و جمهوري اسلامي پاکستان ملاقات نمود

محترم الحاج مولوي عارف الله عارف معین اول وزارت مالیه به تاریخ ۱۹ ذوالحجة الحرام در دفتر کارش با هیأت کمپني هاي صنعتي کشور چین و جمهوري اسلامي پاکستان ملاقات، نمود.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : دربین رابطه به بخش

ص«٤»

دګردیز ښار د جامع جومات د جوړولو کار پیل شو

د ګردیز ښار د جامع جومات د جوړولو کار د ذوالحجي په ۱۹ مه پیل شو .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ: د ګردیز ښار مسلمانو او دیندارو خلکو د خپلي خوښي کارته په سازمان ورکولو سره ددغه جومات د جوړولو په کار کي خپل ایماني او اسلامي رول ولوباوه .

د ګردیز ښار په جامع جومات کي چي د اوه زره دري سوه پنځوس مربع

خلورم مخ

دولس تنه قوماندانان له خپلو وسلو او مهماتو سره د اسلامي اردو له ځواکونو سره یو ځاي شول

دولس تنه قوماندانان له خپلو وسلو او مهماتو سره د بغلان ولایت په مربوطاتو کي د افغانستان د اسلامي اردو له ځواکونو سره یو ځاي شول.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : دغه قوماندانان هر یو خلورم مخ

محترم مولوي وکیل احمد«متوکل» مشاور عالیقدر امیر المؤمنین و سخنګوي امارت اسلامي افغانستان طي کنفرانس مطبوعاتي ګفتند :

در صورتیکه مخالفین امارت اسلامي افغانستان در زمینه از خود صداقت نشان بدهند من مستیقن هستم که سفر ریچاردسن در جهت حل معضله قضیه افغانستان موثر و مــفید واقع خواهد شد

محترم مولوي وکیل احمد متوکل سخنګوي امارت اسلامي افغانستان، بعد از ظهر جمعه طي یك کنفرانس مطبوعاتي که در شهر کابل به اشتراك ژورنالیستان داخلي و خارجي ترتیب یافته بود در مورد اهداف و نتایج سفر بل ریچاردسن سفیر دایمي ایالات متحده امریکا در سازمان ملل

ص«۲»

آقاي ریچاردسن در میدان هوایي بین المللي کابل به جواب یك سوال خبر نګار هفته نامه شریعت ګفتند :

در حل قضیه افغانستان، نقش خود افغانها نسبت به هر کسي دیګر تعین کننده است

در مورد حل قضیه افغانستان چیزیکه نهایت مهم و سازنده تلقي میګردد مذاکرات بین الافغاني میباشد که هدف عمده سفر ما هم ګرد آوردن افغانها روي میز مذاکره بین الافغاني میباشد. در نهایت ما کوشش مي کنیم که قبل از

ص«٤»

د ایران چارواکو تر ډېره حده په افغانستان کي د جګړي د دوام عوامل برابر کړیدي

د ایران نماینده داسي څرګندوني کوي چي د دي ګمان پري لږ کیږي چي دي به کوم بهرني ځواك وي

سهار ورځپانه

د افغانستان د اسلامي امارت په کـــورنیـــو چاروکي د پردیو او په ځـــانګري ډول د ایران او روســـــیي لاسوهنه دي حد ته رسیدلي ده چي پټیول او د پردي شانته ګول بي نور ددي هیوادونو لپاره هم ناشوني دي تر دي چي ځني وخت د دوي غـــیظ ، غوسه او مداخله دومره بي شرمانه او ښکاره شي چي نړیوال بي سپـــین سترګي ته ګوته په غاښ شي.

په همدي لړکي د افغانستان د اسلامي امارت په کورنیو چاروکي د اسلامي امارت دمخالفینو د یو بادار «ایران» لاسوهني ته سهار ورځپاني په خپلي پرله پسي ٤۹٥ ګڼي سر مقالي کي یوه کتنه کړېده چي ځني برخي یي را اخلو :

«... داسي حلقي او افراد پیدا شـــول چي ببیله ویري په زغـــرده د افغانانو په چارو کي لاس وهنه کوي په دي اړه مـتـاســفـانه

ص«٤»

په تخار کي زیاتي سیمي فتحه او د دښمن د ملیشو له شته والي نه پاکي شوي

د تخار په ولایت کي د افغانستان د اسلامي اردو د مجاهدینو او پوځونو د حملي ضد له امله د چوتي او د نذیر کلي او په دغه ځاي کي پراخي ساحي د شر او فـــد د ملیشو له شته والي نه پاکي شوي او بدنامو ملیشو ته د سر درانده زیانونه او زیات مالي تاوانونه واوښتل.

د باختر اطلاعاتي آژانس د مسولو سرچینو له خولي خبر راکړ: د افغانستان د اسلامي امارت مخالفینو نن سهار د تخار ولایت د بنګي دري په استقامت په یو ناکام یرغل لاس پوري کړ چي د اسلامي اردو د مجاهدینو له مقاومت سره مخامخ شو او په الهي نصرت سره د هغوي برید شنډ او زرورواو اتلو مجاهدینو د یوي چټکي حملي ضد په نتیجه کي د تخار ولایت په

خلورم مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

که د بشري حقوقو دعوه کوونکي رښتیا کوي نو :

د بشري حقونو د ساتني رېښتني او اساسي چاره او علاج لټه دي وکړي

هو! د مظلومو او حق تلف شوو انسانانو لپاره دا هم د تسلا یوه خبره ده چي وخت نا وخته د دوي د ضایع شوو حقونو غږ پورته کړاي شي لکه چي نن سبا د بشري حقونو د مؤســـو معمول او نهایي اقدام همدغومره دي، مګر دغه کار له یوي آني او مقطعي بي خونده تسلا پرته د مظلومو خوارکیانو د هیڅ رنځ درمل نشي کیداي؛

په افغانستـــان کي شل کاله پخوا چي د کمونیزم سره بلا مسلطه شوه له هغه مهال نه بیا د طالبانو د اسلامي تحریك تر پیل کیدو پوري په بشري حقونو له یوه مخه ملنډي ووهلي شوي ، دا خو لا پریږده چي د هیواد هر څه تباه او برباد شول مګر د بشري حقونو مؤســـو هغه وخت هم تش فهرستونه خپرول، بیا چي د طالبانو د اسلامي تحریك او د افغانستان د اسلامي امارت د بي سیما قربانیو په برکت د هیواد په سلوکي له اتیا برخو نه په زیاتو سیمو کي د هیواد والو سر، مال او عزتونه د مفسدینو او منحرفینو له ښلوسي نه وژغورل شول او لا لګیا دي د هیواد د پاتي برخو د ژغورلو لپاره بي دریغه قرباني ورکوي ددغو موسسو غږ په دغو محفوظو سیمو کي هم هغه شان دي لکه د مفسدینو او ملحدینو تر لاس لاندي سیمو کي چي هلته په زغرده بشري حقونه تر پښو لاندي کیږي، هغه حقونه چي د اسلامي امارت په سیمو کي ژغورل شوي او ساتل شوي دي هیڅکله هم دغو کړیو د انصاف په حکم د هغو یادونه و نه کړه، دا پخپله د بشر حقونه تر پښو لاندي کول او د هغو طالبانو او مجاهدینو حقونه ضایع کول دي چي د خپلو هیوادوالو د سر، مال او عزت ژغورلو لپاره بي قرباني ورکړي دي؛

د طالبانو د اسلامي تحریك په مشري د افغانستان اسلامي امارت له پیل نه د خپلو هیوادوالو د بشري حقونو د ژغورلو لپاره کار کوي او هڅه کوي چي د هیوادوالو لومړني حقونه (د سر، مال او عزت ساتنه) تر هر څه دمخه

دوهم مخ

علماء، بزرګان و نماینده ګان اقوام مختلف ولسوالي قلعه زال ولایت کندز یکبار دیګر پشتیباني شان را از امارت اسلامي افغانستان ابراز نمودند

علما، بزرګان و نماینده ګان اقوام مختلف ولسوالي قلعه ذال ولایت کندز یکباره یګر با تدویر جلسه وسیعي حمایت و پشتیباني شان را از اهداف و ارزشهاي امارت اسلامي افغانستان ابراز نمودند.

آژانس اطلاعاتي باختر از ولایات کندز خبر داد : در محفلیکه بهمین مناسبت در آن ولسوالي تدویر یافته بود نماینده ګان اقوام ترکمن، ازبك، ایماق، پشتون و اقوام دیګر اشتراك نموده و پس از تلاوت چند آیت از کلام الله مجید، محترم قاري احمد الله

خلورم مخ

استاد رباني به اصطلاح رهبر نهضت اسلامي افغانستان دست زن عفیف مسلمان شبرغان را بر خلاف غیرت اسلامي و غرور افغاني به دست ریچاردسن داد!!

خبرګزاري ها از شبرغان ګزارش دادند : تعداد از زنان مسلمان افغاني در کنار مستقبلین غرض استقبال و پذیرایي از آقاي ریچاردسن به کنار جاده هاي شبرغان کشانیده شده بودند .

خلورم مخ

برخورد هاي شدید میان طرفداران مسعود و رباني مانع رفتن آقاي ریچاردسن به فیض آباد ګردید

ګزارشات واصله از بدخشان حاکي از آن است که از چند روز به اینطرف برخورد هاي شدید میان طرفداران مسعود از یکطرف و طرفداران رباني از جانب دیګر ده ها کشته و زخمي به جا ګذاشته و تا اکنون جنګ به شدت ادامه دارد . ګزارشات حاکي است که دو صد تن از جنګجویان مسعود به دست ملیشه هاي رباني اسیر ګردیده اند، به اثر این جنګ اهالي ولسوالي زیباك بدخشان که جنګ در آن در ګرفته به مشکلات شدید امنیتي دچار ګردیده و غرض نجات سر و ناموس خود ها به سایر اطراف و اکناف بدخشان در حال فرار میباشند.

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریك
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوي گڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په‌پاکستان‌کی(۳) کلداری
پوست‌بکس : (٤٧١)
په پیښور کي :دطالبانونمایندگی‌تیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۲۷
جاري حساب : $\frac{٤٠٣٨٥}{٧}$ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

وژغورل شي وربسي د ژوند لومړني اړتیاوي (خواړه، د څکلو اوبه او سرپناه) ورته مهیا او چمتو کاندي، که د بشري حقونو دعوه کوونکي په رښتیا او اخلاص بشري حقونه ساتل غواړي نو په دغه لاره کي دي مرستي ته را وړاندي شي؛

د ښځو د تعلیم او کار مسئله له هغه نه وروسته مطرح کیږي چي د امنیت په ټینګولو او د ژوند د لومړنیو اړتیاوو په برابرولو سره انساني ژوند خوندي شي؛

مونږ، د غربي ټولنو او تش په نوم بشري موسسو دغو چیغو ته هك حیران پاتي یو چي وایي : د افغانستان اسلامي امارت ښځي تعلیم او کار ته نه پریږدي ... ښځي یې له سره تر پښو پټې کړي دي؛ خلك لمونځونو ته په زور رابولي... په خلکو ږیري پریږدي او ... ؛

څکه چي ږیره پریښودل په اسلام کي کلك سنت او د مسلمانانو تاریخي عنعنه ده، خرېیل او لنډول یې حرام او زیات روغتیایي او مالي تاوانونه لري. لمونځ قطعي فرض او تارك یې فاسق دي، د افغانستان اسلامي امارت خپل هیوادوال لکه‌چي‌دمفسدینولخوانارواتاړاکونونه‌ژغوري‌لفسق‌اوحراموڅخه‌یې‌هم‌ژغوري؛

د ښځو حجاب هم اسلامي فریضه او د مسلمانو میرمنو تاریخي عنعنه او رسالت دي، افغاني میرمنو هیڅ کله هم ددغي فریضي رعایت نه دي پري ایښي، د ځان له پاره ستر وياړ او عزت ګڼي، په تیرو څو لسیزوکي د هیواد په ښاروتو کي بې حجابي د فاسقو حکمرانانو له خوا په زور او جبر تحمیل شوي وه؛ پاته شوه د تعلیم خبره : د هلکانو او نجونو ښوونه او روزنه د افغانستان اسلامي امارت په مسجدونو کي په عنعنوي توګه پیل کړي ده او هڅه کوي چي پراختیا ورکړي مګر د تعلیم خبره لکه چي وموویل په اوسنیو شرایطو کي د ژوند له لومړنیو اړتیاوونه وروسته مطرح کیږي که غربي ټولني او غرب مزاجه کړاد ژوند د لومړنیو اړتیاوو په پوره کولو کي مرسته نه کوي او د تعلیم خبره کوي دا بد تبلیغات او د ژوند د لومړنیو اړتیاوو له ترتیب نه بې خبري او یا سترګي پټول دي د ښځو د کار اسلامي او افغاني طریقه په تاریخ کي داسي راغلي ده چي د کورني او اولادونو له پالني سره سره ښځي وړوکي مصنوعات جوړوي او د ضرورت په وخت کي د اسلامي حجاب له رعایت سره سره له کور نه بهر هم د ژوند ضروریات پوره کوي، د دفترونو کار یوازي په ښارونو کي وي د هغوي له پاره اوس په افغانستان کي ډیر ناریته شته او لا ډیر بې کاره ګرځي، په فعلي شرایطو کي ښځو ته یوازي په ښځینه روغتیایي او اختصاصي چارو کي اړتیا پیدا کیږي او په هغو کارونو کي اوس اوس افغاني ډاکتراني او نرساني دندي ترسره کوي؛

اوس به څنګه دا چیغي له ښه نیت او اخلاص نه راپورته شوي وګڼو چي وایي : د افغانستان اسلامي امارت ښځو ته د کار حقوق نه ورکوي دا چیغي به زمونږ د جګړو وهلي هیواد د میرمنو د کوم رنځ درمل شي؟ په داسي حال کي چي د افغانستان له اسلامي امارت سره د هیوادوالو د ژوند د لومړنیو اړتیاوو په برابرولو، دوران او ویجاړ هیواد په بیا ودانولو کي د مرستي لاس نه راغزوي او که چیري د مرستي خبري په خوله وکړي بیا هغه شرطونه وړسره ږدي چي ښځي دي په دفترونو کي کار وکړي او ...

څنګه به دا چیغي بشري خواخوږي وګڼله شي چي په هیواد کي او د هجرت په وچو ډاګونو کي په لکونو افغاني یوري میندي، وراري خوېندي او کرېدلي کونډي د محرومیتونو د ژوند دقیقي شماري خو د بشر د حقونو دعوه کوونکي یوازي‌د کابل‌اوځینوښارونودمیرمنود کاراوزده‌کړي‌په‌غمونوکي(!!)ترستوني‌ډوبدي؟؟

او په تیره بیا څنګه د دوي په بشري خواخوږي باور وکړای شو چي د عراق خلك د دارو درملو او خوراکي موادو د بندیز له امله په یوه میاشت کي پنځه سوه تنکي زامن او لوڼي توروخاورو ته سپاري او مرګوني بندیز لا بیا هم ادامه لري ؟

که دغه چیغي وهونکي په رښتیا د بشري حقونو له غمه لیوني دي نو بنستهیز علاج او چاره یې دا ده چي د افغانستان اسلامي امارت ته نړیوالي مرستي راجلب کړي تر څو وکړای شي لومړي د هیوادوالو د ژوند لومړني اړتیاوي پوره کړي او بیا د نورو انساني او ملي دردونو په درملو لاس پوري کړي.

حجاجوته د حج مبارکي

گوهري

حاجیانو! حج مو مبارك شه مصطفي څه ویل ؟
زما آقا څه ویل څه بي پیغام وو ؟
افغانستان په باب یې کومه فیصله کړي وه ؟
صدیق اکبر، عمر، عثمان څرنګ جرګه کړي وه ؟
خداي ته علي د بلخ په باب څه عریضه کړي وه ؟
حسن، حسین په دروازه کي د بابا څه ویل ؟
زما آقا څه ویل څه بي پیغام وو ؟
افغانستان د شهیدانو چا پوښتنه کړله؟
امیر حمزه د خداي له دره څه غوښتنه کړله؟
هم جلیبیب او حنظله د چا ستاینه کړله؟
څیري څادر د فاطمي بي بي زهرا څه ویل ؟
زما آقا څه ویل څه بي پیغام وو ؟
کله چي تاسي مدیني منوري ته لاړي
د محمد آخر زمان ښکلي روضي ته لاړي
زما جانان چي پکي دي هغي کوڅي ته لاړي
په مسجد کي هغي ګنبد خضرا څه ویل ؟
زما آقا څه ویل څه بي پیغام وو ؟
د نبوي مسجد حال څه و څه فریاد و پکي ؟
جنت بقیع چي ژړل غم د کوم هیواد و پکي ؟
څوك پکي ښاد و څوك په زړه باندي ناښاد و پکي ؟
زمونږ په هکله چي احمد رسول الله څه ویل ؟
زما آقا څه ویل څه بي پیغام وو ؟
حجاجو تاسو ته د حج مبارکي وایمه
خداي دي قبول کړي ستاسي ټولي قرباني وایمه
درته په مینه او اخلاص ستړي مشي وایمه
خو چي راتلي د «گوهري» ښکلي اشنا څه ویل ؟
زما آقا څه ویل څه بي پیغام وو ؟

د افغانستان اسلامي امارت به د اسلامي اصولو په تطبیق کي له هیڅ...

پوښتنه : امریکا غږ رادیو د ریچاردسن له خولي خبر ورکړ چي طالبانو موافقه کړېده چي د ښځو په هکله به خپلي موجوده پالیسي او رواني وضعي ته تغیر ورکړي محترم متوکل صاحب ګه دا راته ووایي چي دا خبر تر کومه حده واقعیتلري‌مهرباني‌بهو وي ؟

ځواب : د افغانستان د اسلامي امارت په هغو پالیسیو کي چي د اسلامي شریعت نه سرچینه اخلي خصوصاً په هغه مسایلو کي چي غیر مفوضه دي هیڅ ډول تغیر نه دي راغلي اصلاً مونږ مکلف یو چي په هغه استقامت کار وکړو چي هغه د خلکو او اسلام له غوښتنو سره سمون ولري داسي نه چي بیګانه او غیر معقول تقلید ونه کړو په هر صورت دا پخپله د بل ریچاردسن د خپلي خولي وینا ده چي د مطبوعاتو په ټولو خبرو باید باورونه شي امکان لري چي مطبوعاتو د بل ریچاردسن په خبرو کي تصرف کړي وي او یا ده پخپله غلط فهمي کړي وي . د افغانستان اسلامي امارت به د خپل وطن او اسلام غوښتنو ته ترجیح ورکوي.

پوښتنه : په کابل کي له بل ریچاردسن او ورسره هیئت سره د مذاکراتو بریالیتوب ته څومره امیدواري لري؟

ځواب زمونږ اوسني ناسته او مذاکرات اصلاً د تماس یوه وظیفه او ماموریت دي چي تر سره کیږي چي مذاکرات ورته نه شو ویلي هغه اصولي مذاکرات چي د اسلامي امارت لخوا وړاندي شویدي او مخالفینو تر اوسه یوازي په قول منلي ده او عملاً یې ثابته کړي نده هماغي ته مذاکرات ویلي شو دا به هغه وخت وي چي مخالفین علما، وټاکي مواصفات یې پوره کړي د مخالفینو ټول سرګروپان په لست لاسلیك وکړي او دیته ترجیح ورکړي چي د پردیو غلامي پریږدي نو امکان لري چي دا ډول مذاکرات روانه غمیزه حل کړي .

پوښتنه : اسلامي امارت په بهرنیو موسسو کي د مسلمانو ښځو د کار لپاره له هغوي سره د هغوي محرم شرط بللي وو خو اوس را دیوګانو دا خبر ورکړ چي تاسي له ریچاردسن سره په خبرو کي له دي شرط نه تیر شوي یاست تاسي په دي اړه څه وایي؟

ځواب : نه. مونږ ځکي هم دیته اشاره وکړه چي اسلامي امارت به د اسلامي اصولو په تطبیق کي له هیڅ ډول نرمښت نه کار وانه خلي، هغه مسئلي چي د خلکو او جامعي په جوړښت کي د جامعي په امنیت کي د جامعي په پر مختګ کي لکه د حجاب مسئله یا داسي نوري معنوي مسئلي مونږ باور لرو چي اسلامي امارت به له دي څخه نه اوړي یوازي دومره ویل شویدي چي په غیر مسلمانو ښځو لکه پخوا چي بندیز نه وو او د دوي په وینا یو سهولت وو دا سهولت مو په خپل حال ساتلي دي او د مسلمانو ښحو په هکله دا دعوه بالکل غلطه ده .

پوښتنه : تاسي په نړیوالو قضیو او په ځانګړي ډول د افغانستان په کړکیچ کي د امریکا رول ته څومره اهمیت ورکوئ او څه ډول یې څیړئ؟

او دا هم ووایي چي د افغانستان د اسلامي امارت په اړه د امریکا موجوده دریځ په حقایقو متکي دي او که څنګه ؟

ځواب : د افغانستان په اړه که د متحده ایالاتو تیر نظر او څرګندونو ته ځیر شو نو هیڅ داسي دلیل په لاس نه راځي چي د دوي دریځ په حقایقو متکي او ولاړوبولو په هر صورت له دي مقدماتي سفر نه به معلومه شي چي که دوي اوس د ملګرو ملتونو د هغو هلو ځلو ملاتړ وکړي چي اوس اوس یې د افغانستان د اسلامي امارت د علماء پروسي ته هر کلي ویلي دي د ملګرو ملتونو له هیئت سره دوامداره همکاري وکړي نو امکان لري چي بیا به د افغانانو لپاره د امریکا رول مثبت او مهم وي.

پوښتنه : له فرصت نه په استفادي غواړم د شریعت اوونیزي د نشراتي بهیر په هکله ستاسو نظر معلوم کړم که مهرباني وکړي په دي اړه څه راته ووایي؟

ځواب : د افغانستان د اسلامي امارت د اطلاعاتو او کلتور وزارت په چوکاټ کي د افغانستان د اسلامي امارت د مرکزي نشراتي ارګان په توګه د شریعت اوونیزي د تعدیل د هر کلي باندي زه باید ووایم چي واقعاً دا وزینه، پر محتوي جامعه، معقوله اوونیزه ده چي د تحریك ښه ترجماني یې کړېده او په خلکو کي ځانګړي محبوبیت لري او خصوصاً ددي مقدس نوم او عنوان چي هغه زمونږ قانون دي دا هغه ځانګړي خصوصیات دي چي د افغانستان ټولو مطبوعاتو کي ددي مثال زما په نظر نه موندل کیږي .

در صورتیکه مخالفین امارت اسلامي افغانستان در زمینه از خود...

متحد و هیئت همراه شان به افغانستان روشني انداختند .

خبرنگار هفته نامه شریعت که درین کنفرانس اشتراك داشت در زمینه چنین گزارش میدهد : محترم مولوي وکیل احمد«متوکل» در آغاز ضمن صحبت همه جانبه خویش ، روي نتایج بدست آمده سفر اخیر ریچاردسن اشاره نموده گفتند : در نتیجه« ملاقات با ریچاردسن و هیئت معیتی شان که با مقامات عالیرتبه امارت اسلامي افغانستان صورت گرفت در موضوعات آتي توافقات به عمل آمد

بتاریخ دهم محرم الحرام سال نو قمري مذاکرات مقدماتي گروپ تماس در اسلام آباد پاکستان میان مقامات امارت اسلامي افغانستان و مخالفین آغاز میگردد که هر دو طرف هیأت هاي خود را غرض اشتراك درین مذاکرات معرفي نموده اند. هم چنان قرار است که با تفاهم سازمان ملل متحد یك هیأت عالیرتبه آن اداره تحت ریاست القر بد و سیمتاري هفته آینده به کابل آمده و با وزارت پلان امارت اسلامي افغانستان در قسمت تنظیم و بهتر ساختن فعالیت هاي موسسات مربوط درافغانستان فیصله هاي مثبت و سازنده نمایند.

- امارت اسلامي افغانستان بطور یکطرفه موافقه نمود که علیه مخالفین خویش تهاجمات نظامي خود را تا زمانیکه آتش بس ممکنه صورت میگیرد، قطع نماید.

- در قسمت کار و فعالیت زنان فیصله به عمل آمد که کار و فعالیت هاي زنان در شفاخانه ها و بخش هاي صحي باید کما في السابق ادامه وسعت عمل پیدا کرده و هم درین قسمت سعي و اهتمام هر چه بیشتر صورت بگیرد.

- امارت اسلامي به تاکید یاد آور شد که از خاك افغانستان علیه هیچ کشور عملیات تروریستي صورت نگرفته و به هیچ کس اجازه نخواهیم داد که خاك افغانستان را غرض مقاصد تروریستي استعمال نماید.

- در مورد تعلیم و تربیه زنان فیصله گردید که تعلیم و تربیه زنان موازي با اصول شرعي و اسلامي حتی الامکان باید وسعت و گسترش یابد.

- در مورد تبادله اسرا ، جنگي میان طرفین موافقه صورت گرفت .

- و در مورد به اصطلاح تحریم مواد غذایي ولایت بامیان از جانب امارت اسلامي افغانستان ، درین مذاکرات یاد آوري شد در صورتیکه کمك هاي بشر دوستانه ملل متحد و سایر موسسات خیریه جهاني شکل مساویانه و عمومي را در تمام نقاط افغانستان به خود بگیرد و به جانب امارت اسلامي افغانستان تضمین عملي و معقول داده شود که از این کمك ها استفاده هاي سؤ غرض مقاصد نظامي صورت نمیگیرد ، در آنصورت جانب امارت اسلامي افغانستان در زمینه تسهیلات لازم را مهیا خواهد گردانید .

بعداً به ژورنالستان وقت داده شد که سؤالات شان را در زمینه طرح نمایند :

در آغاز محترم «متوکل» به این پرسش خبرنگار هفته نامه شریعت که آیا آقاي رچاردسن درین سفر با خود کدام طرح مشخص داشتند که به جانب امارت اسلامي افغانستان پیش کش کرده باشند ؟ چنین پاسخ ارائه داشت : نخیر! ایشان با خود کدام طرح مشخص نداشتند؛ بلکه اظهار نمودند که ما از طرح اخضر براهیمي در مورد حل قضیه افغانستان حمایت و پشتیباني میکنیم.

محترم «متوکل» باز هم در مقابل این پرسش خبرنگار هفته نامه شریعت که : شما سفر رچاردسن را در کل چگونه ارزیابي مي نمائید ؟ اینگونه اظهار داشتند : در صورتیکه مخالفین امارت اسلامي افغانستان در زمینه از خود صداقت نشان بدهند، من متیقن هستم که سفر رچاردسن در جهت حل معضله قضیه افغانستان موثر و مفید واقع خواهد شد.

وقتي خبرنگار ما از وي پرسید که در قسمت بازگشایي مجدد سفارت امریکا در کابل چه توافق صورت گرفت ؟ محترم متوکل در زمینه اظهار داشت :

در مجموع در مورد روابط دیپلوماتیکي افغانستان با تمام کشور هاي جهان که قبلاً افغانستان با آنها روابط دیپلوماتیك داشت به شمول امریکا تبادل نظر صورت گرفت.

س : آیا شما از رچاردسن تقاضا نمودید که ایالات متحده امریکا، امارت اسلامي افغانستان را برسمیت بشناسد؟ محترم متوکل در پاسخ این پرسش خبرنگار رویتر چنین اظهار داشتند : امارت اسلامي افغانستان آن شرایط و مواصفات که براي برسمیت شناختن یك دولت و حکومت ضروري پنداشته میشد با خود دارد: بناً در همین مورد به شکل اصولي از جانب امارت اسلامي افغانستان وسیعاً تاکید شد که طالبان نمایندگان واقعي مردم افغانستان میباشند و تنها طالبان از حقوق حقه این ملت هم پشتیباني و هم نمایندگي کرده میتوانند و کشور هاي جهان آنرا منحیث یك حکومت قانوني باید به رسمیت بشناسند.

محترم متوکل در پاسخ به این پرسش یك تن از خبرنگاران : که چرا امریکا سیاست خود را در افغانستان دو باره فعال نموده چنین گفتند : حل قضیه افغانستان براي بسیاري از کشور هاي جهان مفید واقع میشود: از همین سبب امریکا هم میخواهد که از حل قضیه افغانستان به نفع خود استفاده نماید. امریکا ضرورت دارد که بخاطر ثبات در منطقه در مورد حل قضیه افغانستان ساعي بوده و منافع که دارد در مورد حل قضیه افغانستان مصرف مساعي نماید ... جاست که امروز مستقیماً در این مورد قدم برداشته است .

مبارزه فقیه مشهور اسلام سعید بن جبیر در مقابل مظالم و جنایات حجاج

بخش دوم

حق و باطل همیشه در زنده گي و اجتماع انسان وجودداشته و هکذا انسانها هم به دو گروه حق پرست و حق خواه و باطل پرست تقسیم گردیده اند ، حق پرستان غرض حاکمیت حق و عدالت و باطل پرستان غرض حاکمیت باطل ، جور و ظلم مصروف پیکار و مبارزه بوده اند و هر یك در مسیر خود ایثار و فداکاریها داشته اند.
صفحات تاریخ اسلام هم از همچون وقایع و مبارزات یاد آوریهاي داشته و نشان داده است که هیچ دین و مکتب به اندازه اسلام مقابل باطل ظلم و جور ترزمیده و حساسیت نشان نداه است و هیچ قوم و ملت به اندازه مسلمان و مؤمن مخلص مقابل ظلم، جور و استبداد جهاد و مبارزه نکرده است به خصوص در این پیکار و کارزار علما، حقاني، فقها، و دانشمندان اسلامي سبت‌معنمیش‌قدوسیر حلقه بوده اند.
دوران حکمراني حجاج در تاریخ اسلام یك دور پر از ظلم و جفا بوده است و تعداد کثیري از علما و دانشمندان اسلامي در آن دوره سیاه قربان گردیده اند، جهاد و مبارزات فقها، علما، و دانشمندان اسلام در مقابل زعامت جبرانه حجاج نهایت آموزنده و مخلصانه بوده که ما در اینجا جهاد و مبارزه تابعي جلیل القدر و فقیه مشهور اسلام حضرت سعید ابن جبیر را که دانشمند مشهور جناب دکتور یوسف (قرضاوي) به رشته تحریر در آورده است بدست نشر میسپاریم تا باشد که مشعل راه حق طلبان مقابل جابره و ظالمان شود.

«سعید در یکي از خانه هاي دوراز آباداني مکه رحل اقامت افگنده، یکتن از همفکرانش بنام ابو حصین بروي وارد میشود » .

ابو حصین : برادرم! ابو عبدالله(کنیه سعید بن جبیر) خبر شدي که والي جدید مکه در مسجد چه گفت؟

سعید : نه، چه گفت ؟

ابو حصین: گفت : سوگند بخداي که به او سوگند یاد مي کنیم و بخاطر رضاي او فریضه حج ادا ، مي نمائیم. اگر به سعید دست یافتم، او را به قتل رسانده و خانه اش را ویران مي کنم، و بر شما است که تا سه روز حتماً رد پاي او را پیدا کنید. بلي، والي در حالیکه عربده مي کشید. این پیام را به مردم ابلاغ کرد ، و من شیدم که مردي از اقامتگاه ات والي را مطلع ساخته و حتماً کسي را بخاطر بازداشت نمودنت گسیل خواهد داشت، پس چه بهتر که اینجا را ترك کني و اقامتگاه دیگري اختیار نمایي.

سعید : برادرم ابو حصین! سوگند بخدا بیش از حد فرار کردم و هر طرف پنهان شدم، حتی اینکه از خدا شرم نمودم، بناً بگذار در همینجا، باشم تا ببینم امر خدا چیست ؟

ابو حصین : راستي طوریکه مادرت تو را نامگذاري کرده ،سعیدهستي،خاوندناصرتباد.

سعید : خداوند حافظ و ناصر تو نیز باد.

« ابو حصین بیرون میشود، چند لحظه بعد، مردي دق الباب نموده و سپس داخل میشود ، این مرد کسي است که بخاطر دستگیري او فرستاده شده .

مرد : والي از اقامتگاه تو اطلاع حاصل کرد و مرا بخاطر دستگیریت فرستاد و برایم دستور داده تا ترا به نزد او ببرم، اما من بخدا پناه مي برم، و نمي خواهم این قلاده ننگ به گردن آویزم، پس هر جائیکه مي‌روي‌باتوهمرکابخواهم بود.

سعید : من از فرار زیاد و پنهان شدنها در نزد خالقم خجالت و شرمسارم، دیگر نمي خواهم فرار کنم، هر چه تقدیر است، بدان تن در خواهم داد .

مرد : از تقدیر به تقدیر فرار مي کنیم، تو به تنهایي خود یك امتي، و من بیم بر این امت دارم که بعد از شهادت و قتل علماو دانشمندان مستحق غضب خداوندي گردند. بناً حرفهایم را قبول کن، هر دو این دیار را ترك میگوئیم فرار میکنیم طوریکه موسي از فرعون فرار کرد و گفت :« اي پروردگار مرا از گروه ستمکاران نجات ده» .

سعید : (که حرفهاي مرد در او اثر گذاشته) آیا اولاد و فامیلي داري ؟

مرد : بلي.

سعید : بناً آنها دستگیر شده و با سرنوشت و روز و روزگار من دست و گریبان خواهند شد.

مرد : تو کلشان بخدا .

سعید : نه سوگند بخدا ، هرگز نمي خواهم عامل ضرر به مسلمان باشم، هر آنچه بدان مامور شده اي، تنفیذ کن، خداوند بر حسب نیتت و آنچه در قلب داري، اجر و پاداشت را خواهد داد .

مرد : مگر نمیداني، که والي تو را نزد حجاج خواهد فرستاد ، حجاجیکه از قساوت و ستمگریش خبر داري ؟

سعید : هر چه مشیت خدا باشد بدان تن خواهم داد .

مرد : من بخاطري به دستور والي تن در دادم و ایلچي او به نزد تو شدم که تو را به محل با امني فرار دهم، پس تو چسان مرا مجبور مي سازي که، غل و زنجیر در دستانت بگذارم و ترا به کسي که کلمه رحم و شفقت در قاموس و جودش نیست، تسلیم کنم؟ بهتر است کار سازنده تري انجام دهم، و یکجا با هم فرار کنیم.

سعید : طوریکه گفتم، اولاد و خانواده ات بخاطر من به تکالیفي دست و گریبان خواهند شد، بناًمرا عامل این همه مصایب و تکالیف مگردان، به آنچه مامور شده اي، اقدام کن، بگیر دستانم را و هر دو را زولانه دستبند زن.

مرد : در حالیکه اشك از دیدگانش سرازیر است، پیش میشود و دستهاي سعید را دستبند مي زند و میگوید : قضاي خدا را کسي رد کرده نمي تواند. خدایا تو میداني که من به جبر تن به این کار داده، خدایا مرا مغفرت کن.

تقویم (١٠٠٥١) ساله از آغاز سال اول هجرت تا ختم سال ده هزار و پنجاه و یکم هجری قمری

جدول ا و د ب ز هـ ج برای تعین و استخراج مدخل هر قرن سی ساله قمری

١	٦٣١	١٢٦١	١٨٩١	٢٥٢١	٣١٥١	٣٧٨١	٤٤١١	٥٠٤١	٥٦٧١	٦٣٠١	٦٩٣١	٧٥٦١	٨١٩١	٨٨٢١	٩٤٥١	جمعه	ا
٣١	٦٦١	١٢٩١	١٩٢١	٢٥٥١	٣١٨١	٣٨١١	٤٤٤١	٥٠٧١	٥٧٠١	٦٣٣١	٦٩٦١	٧٥٩١	٨٢٢١	٨٨٥١	٩٤٨١	چهارشنبه	و
٦١	٦٩١	١٣٢١	١٩٥١	٢٥٨١	٣٢١١	٣٨٤١	٤٤٧١	٥١٠١	٥٧٣١	٦٣٦١	٦٩٩١	٧٦٢١	٨٢٥١	٨٨٨١	٩٥١١	دوشنبه	د
٩١	٧٢١	١٣٥١	١٩٨١	٢٦١١	٣٢٤١	٣٨٧١	٤٥٠١	٥١٣١	٥٧٦١	٦٣٩١	٧٠٢١	٧٦٥١	٨٢٨١	٨٩١١	٩٥٤١	شنبه	ب
١٢١	٧٥١	١٣٨١	٢٠١١	٢٦٤١	٣٢٧١	٣٩٠١	٤٥٣١	٥١٦١	٥٧٩١	٦٤٢١	٧٠٥١	٧٦٨١	٨٣١١	٨٩٤١	٩٥٧١	پنجشنبه	ز
١٥١	٧٨١	١٤١١	٢٠٤١	٢٦٧١	٣٣٠١	٣٩٣١	٤٥٦١	٥١٩١	٥٨٢١	٦٤٥١	٧٠٨١	٧٧١١	٨٣٤١	٨٩٧١	٩٦٠١	سه شنبه	هـ
١٨١	٨١١	١٤٤١	٢٠٧١	٢٧٠١	٣٣٣١	٣٩٦١	٤٥٩١	٥٢٢١	٥٨٥١	٦٤٨١	٧١١١	٧٧٤١	٨٣٧١	٩٠٠١	٩٦٣١	یکشنبه	ج
٢١١	٨٤١	١٤٧١	٢١٠١	٢٧٣١	٣٣٦١	٣٩٩١	٤٦٢١	٥٢٥١	٥٨٨١	٦٥١١	٧١٤١	٧٧٧١	٨٤٠١	٩٠٣١	٩٦٦١	جمعه	ا
٢٤١	٨٧١	١٥٠١	٢١٣١	٢٧٦١	٣٣٩١	٤٠٢١	٤٦٥١	٥٢٨١	٥٩١١	٦٥٤١	٧١٧١	٧٨٠١	٨٤٣١	٩٠٦١	٩٦٩١	چهارشنبه	و
٢٧١	٩٠١	١٥٣١	٢١٦١	٢٧٩١	٣٤٢١	٤٠٥١	٤٦٨١	٥٣١١	٥٩٤١	٦٥٧١	٧٢٠١	٧٨٣١	٨٤٦١	٩٠٩١	٩٧٢١	دوشنبه	د
٣٠١	٩٣١	١٥٦١	٢١٩١	٢٨٢١	٣٤٥١	٤٠٨١	٤٧١١	٥٣٤١	٥٩٧١	٦٦٠١	٧٢٣١	٧٨٦١	٨٤٩١	٩١٢١	٩٧٥١	شنبه	ب
٣٣١	٩٦١	١٥٩١	٢٢٢١	٢٨٥١	٣٤٨١	٤١١١	٤٧٤١	٥٣٧١	٦٠٠١	٦٦٣١	٧٢٦١	٧٨٩١	٨٥٢١	٩١٥١	٩٧٨١	پنجشنه	ز
٣٦١	٩٩١	١٦٢١	٢٢٥١	٢٨٨١	٣٥١١	٤١٤١	٤٧٧١	٥٤٠١	٦٠٣١	٦٦٦١	٧٢٩١	٧٩٢١	٨٥٥١	٩١٨١	٩٨١١	سه شنبه	هـ
٣٩١	١٠٢١	١٦٥١	٢٢٨١	٢٩١١	٣٥٤١	٤١٧١	٤٨٠١	٥٤٣١	٦٠٦١	٦٦٩١	٧٣٢١	٧٩٥١	٨٥٨١	٩٢١١	٩٨٤١	یکشنبه	ج
٤٢١	١٠٥١	١٦٨١	٢٣١١	٢٩٤١	٣٥٧١	٤٢٠١	٤٨٣١	٥٤٦١	٦٠٩١	٦٧٢١	٧٣٥١	٧٩٨١	٨٦١١	٩٢٤١	٩٨٧١	جمعه	ا
٤٥١	١٠٨١	١٧١١	٢٣٤١	٢٩٧١	٣٦٠١	٤٢٣١	٤٨٦١	٥٤٩١	٦١٢١	٦٧٥١	٧٣٨١	٨٠١١	٨٦٤١	٩٢٧١	٩٩٠١	چهارشنبه	و
٤٨١	١١١١	١٧٤١	٢٣٧١	٣٠٠١	٣٦٣١	٤٢٦١	٤٨٩١	٥٥٢١	٦١٥١	٦٧٨١	٧٤١١	٨٠٤١	٨٦٧١	٩٣٠١	٩٩٣١	دوشنبه	د
٥١١	١١٤١	١٧٧١	٢٤٠١	٣٠٣١	٣٦٦١	٤٢٩١	٤٩٢١	٥٥٥١	٦١٨١	٦٨١١	٧٤٤١	٨٠٧١	٨٧٠١	٩٣٣١	٩٩٦١	شنبه	ب
٥٤١	١١٧١	١٨٠١	٢٤٣١	٣٠٦١	٣٦٩١	٤٣٢١	٤٩٥١	٥٥٨١	٦٢١١	٦٨٤١	٧٤٧١	٨١٠١	٨٧٣١	٩٣٦١	٩٩٩١	پنجشنبه	ز
٥٧١	١٢٠١	١٨٣١	٢٤٦١	٣٠٩١	٣٧٢١	٤٣٥١	٤٩٨١	٥٦١١	٦٢٤١	٦٨٧١	٧٥٠١	٨١٣١	٨٧٦١	٩٣٩١	١٠٠٢١	سه شنبه	هـ
٦٠١	١٢٣١	١٨٦١	٢٤٩١	٣١٢١	٣٧٥١	٤٣٨١	٥٠١١	٥٦٤١	٦٢٧١	٦٩٠١	٧٥٣١	٨١٦١	٨٧٩١	٩٤٢١	١٠٠٥١	یکشنبه	ج

جدول اهجزدبوج برای یافتن غره محرم در هر سی سال قمری

